د انګلستان او ویلز د حقوقدانانو

د بشر د حقوقو کمیته

(BHRC)

# د قانون واکمنی او بشری انکشاف

افغانســــتان

می ۲۰۰۸ کال

د انګلستان او ویلز د حقوقدانانو
د بشر د حقوقو د کمیټې نشرات
لندن - (BHRC)

# د مطالبو فهرست


پېژندنه ........................................ ٥
د قانون واکمنی او انکشاف ........................................ ٥
بشري انکشاف ........................................ ٨
د بشري انکشاف اندیکس ........................................ ١٢
نړیوال بانک ........................................ ١٢
نتیجه ........................................ ١٤

## د قانون واکمنی او بشري انکشاف:
## سریزه

### پیژندنه

د قانون واکمنی او بشري انکشاف یاپرمختیا ، دواړه هغه کلمی دی چی نن سبا په پر له پسی توگه پکارول کیږی ،سره لدی چی دغه دواړه اصطلاحات ناڅرگنده او مبهم دی او کیداي شی چي په بیلابیلو ډولونوتعبیر او تفسیر شی . سر بیره پر دی د قانون او انکشاف مفاهیم دومره د تکامل په حال کی دی چی د نړیوال بانک ، نړیوال وجهی صندوق ، دملگرو ملتونوسازمان او دنورو موسسوترمنځ د نظریووالی د وخت په تیریدوسره توپیر مومی[1].

### د قانون واکمنی او انکشاف

څرنگه چی پدی هکله به بحث وشی بیلابیل خلک د انکشاف نه مختلف تعبیرونه لری. ددی لیکنی د هدف لپاره او په افغانستان کی د بشری انکشاف په هکله د ملگرو ملتونو د بشری انکشاف د اداری د۲۰۰۷ کال د وروستی راپور له مخی،د بشری انکشاف عبارت د افرادو د انتخاب د پراخوالی او د هغوی د توانایی لپاره پکارول کیږی .دغه عبارت د موسسو د انکشاف او اقتصادی پراختیا نه بر سیره ، پر هغو آزادیو متمرکزه ده چی خلک ورنه گټه اخلي. دغه بشری انکشاف نه یوائی د انکشاف پاییلی څیړی بلکی هغو پروسو ته هم لیواله دی، چی د هغوله لاری دانتیجی تر لاسه کیږی. ټول پدی توافق لری چی د بشری انکشاف اهدافو ته د رسیدواو ددغو اهدافو ساتنه په ټولوټولنو کی د قانون د واکمنۍ په اغیزمن توب پوری اړه لری ، لدی کبله پداسی حال کی چی بشری انکشاف یو معنوی هدف دی، د قانون واکمنی د ټولنی په کړنو کی یو اساسی عنصر بلل کیږی. د قانون واکمنی د ثبات او امنیت، اقتصادی هوساینی،د ټولنیز ژوندانه د ښه والی او سیاسی واکمنۍ سره ټینگې اړیکې لري.

د قانون د واکمنۍ لپارهیڅ یو واحد تعریف وجود نلری. دا کار د پراختیا په برخه کی ستونزی لا زیاتوی .ځکه نه یوائی د انکشاف څخه مختلف تعبیرونه کیږی چی داکار

---

[1] د افغانستان بشری انکشاف په هکله د UNDPد ۲۰۰۷ کال راپور ته مراجعه وشی.

کولای شی بیلابیلی حقوقی ملاحظی ولری بلکی دقانون د واکمنۍ څخه هم یو واحد تعریف په لاس کی نشته.

د مختلفو رشتو پوهانو لکه د سیاسی علومو، فلسفی،ټولنپوهني، خلک پوهنی، د انکشافي اوحقوقود مطالعاتو،ټولو بیلابیل تعریفونه وړاندی کړی چی دغه تعریفونه د لیکوال د اهدافو پر بنسټ ، او هغو قراینو کي چي دا تعریفونه لیکل شوي ،له یو بل څخه تفاوت لری.

ځینی پوهانو د قانون د واکمنۍ دوو اصلی برخو ته گوته نیولی:رسمی او ذاتی.د رسمی برخی پلویان تر ډیره حده د قانون رسمی ځانگړتیا او قضایی سیستم ته پاملرنه کوی. هغوی د وروستی نتیجي پر ځای ، زیاتره د جریان او کړنلاري پلویان دی خو له بلي خوا د ذاتی برخی پلویان زیاتره د قانون د محتوا څیړنی، د هغی نورمونو او اخلاقی ځانگړتیاوو ته پاملرنه کوی.

لدی کبله د رسمی یا فورمالیزم د برخی پلویان د قانون پر علنی خپریدلو(۱)، مسلکی عدلی سیستم(۲)، او د قانون د پلی کیدو د یو داسی با کفایته مرجع غوښتونکی دی چی وکولای شی پریکړی عملی کړی (۳.). خو د ذاتی برخی پلویان بیا زیاتره دیو قانونی حکومت(۱)،د قانون پر وړاندی برابری(۲)،نظم او قانون(۳)،وړاند وینه او اغیزمنو پریکړو(۴)، اوبشری حقوقو(۵)، باندی ټینگار کوی.

ملگرو ملتونو لا پخوا د قانون واکمنی داسی تعریفه کړی: "د واکمنۍ یو اصل چی په هغه کی ټول افراد، موسسې او جوړښتونه ،شخصی وي که عمومی، د دولت په شمول ،د قانون په وړاندی ځواب ویونکې وي او دا قانون باید په علنی ډول خپورشوی وي ،په برابره توگه نافذ وي او په مستقله توگه دقضاوت وړ وي او همدارازپه نړیوالو نورمونو او ستهندردونو برابره وي."[۲]

(برایان گارت) پخپلو څیړنو کی په تیرودیرشو کلونو کی د قانون او انکشاف د تیوری او عمل په هکله استدلال کوی چی د انکشافی اوحقوقی پوهانو، عمل کوونکو او

[۲] پر جگړه ځپلو او د جگړی وروسته ټولنو کی د قانون او انتقالی عدالت واکمنی ،د ملگرو ملتونو د پخوانی عمومی منشی کوفی عنان راپور، ، داگست ۲۳ کال ۲۰۰۴.

موسسوترمنځ د قانون د واکمنی د معنا په هکله د هم غربۍ کموالی په۱۹۷۰لسیزه کی په پراخ ډول د قانون او انکشاف د لومړنی جنبش په ناکامی باندی تاثیر درلود.[۳]

ځینو پوهانود جگړی نه روسته ټولنوکی د قانونی نوښتونو په هکله ورانوونکي مقالی لیکلی. ځیني استدلال کوي چی په څو هیوادونو کی د قانون د واکمنۍ ارتقاد امپریالسیتی تشکیلاتو بنه غوره کړی چی په هغه کی بهرنی اداری تشکیلات په پوځي زور، پر دغو ټولنو چی خپلی واکمنی ته نا مناسبه او یا چمتوندی، واکمن کیږي.

د قانون د واکمنۍ څخه تعبیرپه یوه ټولنه کې د روانو اصلاحاتو لپاره خورا ارزښت لری. نشی کیدای داسی وګڼل شی چی یو آزاد تعریف حتماً ضد او نقیض نظریات نه لري . دا مهمه ده چی د قانون د واکمنۍ هغه مفهوم ته پراختیا ورکړل شی چی سیمه ایزچاپیریال ته حساس وي. د یوی ټولنی طبقاتی جوړښت په پام کی نیول هم په هماغه اندازه مهم دي .داسی هم کیدای شی چی په یوه هیواد کې ځینی قوانین د یوي ډلې لپاره ګټهور وی خو په بله ډله باندې ورانوونکي اغیزه ولري. د قانون د واکمنۍ معنا ته په بنه ورکولو کی، دا مهمه ده چی د قانون د واکمنۍ ، بشری حقوقو او انکشاف ترمنځ اړیکي، په پام کی ونیول شی.

جوزف راز، په ساده او امرانه بڼه د قانون واکمنی داسی تعریف کړیده : "خلک د قانون رعایت وکړی او قانون ددوی لارښود وی ".خو دا تعریف د قانون د واکمنۍ د محتوا په هکله زیات څه نه وایی.ژان ژاک روسو وایی یوائی هغه هیواد چی د وضع شوو قوانینو د برلاسۍ پر بنسټ ولاړی دی کولای شی عدالت او آزادی په لازمه توګه پلی کړی. د ا دهخې نظریې دراپیدا کیدو سبب شوه چې حاکمان باید تر قانون لاندې حکومت وکړي، نه دا چی بې پایه واک ولری.

د" قانون د واکمنۍ " عبارت انګلیسی حقوق پوه (اندرووین ډایسي) ته منسوب شوی چی د قانون واکمنی یی د انګلستان د سیاسی بنسټونو د یو شکل په ډول له دوو اړخونونه تعریف کړه :(۱)چی هیچا ته دی جزا ورنه کړل شی مګر دښکاره قانوني

[۳] برایانت ګارت،د قانون او نوی پراختیا له لاری دعدلی خپلواک او قوی سیستم رامنځته کول: دپارادوکس د پردی تر شا وفاقي پروګرامونه او دایمی نا هیلي کوونکی نتیجی (۲۰۰۲)۵۲ دپاول د قانون له سره کتنه ۳۸۵،۳۸۳

سرغړونی لپاره او (۲) هر څوک په هره کچه کی چی وی د یو هیواد عادی قوانینو ته دی ځواب ورکوونکی دی.[۴]

د UNDPد ۲۰۰۷ کال کلنی راپورڅلورواړخونو ته اشاره کوی چی په افغانستان کی د قانون د واکمنی چوکاټ ښیی :(۱)د قانون دواکمنی د بنسټونو استقلال،(۲)عمومی او منصفانه قوانین،(۳) برابرانفاذ ،(۴)د بشری حقوقو له اصولوسره د هغو همغږي.[۵] دا ټول د قانون د واکمنۍ اساسي اړخونه دی او یو اضافی مهم عنصر هم پدی کی قانون او عدالت ته لاس لرل دي.

## بشري انکشاف

دا ډیره سخته ده چی انکشاف او یا پراختیا تعریف کړو . انکشاف هم د اهدافو یوه مجموعه ده او هم هغه بهیردی چی د هغي لاری دا هدفونه ترلاسه کیږی.د انکشاف کار پوهانو دی موضوع ته د (ماکرو ) یعني د جګي کچي او (مایکرو ) یعنی د ټیټي کچي له لاری کتلي دی. یا په بل عبارت هغه پوهان چې دولت او د سیاست جوړونکو ادارو ته ئې پاملرنه متمرکزه ده او هغه نور چې بیا د انکشافي سیاستونو اغیزه پر افرادو باندي مطالعه کوي.

د قانون او انکشاف تیوری په ۱۹۲۰ لسیزه کی د پراختیا دمدرنیزه توب نه وروسته پیل شو.

دمدرنیزه توب تیوری پدی اټکل کاوه چی مخ پر انکشافه هیوادونه، وروسته پاتی ده اوکه چیرې دغه هیوادونه لویدیزو هیوادوته ورته سیاسی ، اقتصادی او ټولنیز بنسټونه جوړکړي، دا به داقتصادي پرمختګ سبب شي. لدی کبله، د لومړنیو متخصصینو هدف دا ؤ چې په مخ په انکشافو هیوداونو کې د لویدیځو هیوادونو په شان قضایی بنسټونه جوړشي.

ددی کار نتیجه دا شوه چی قومی او کلتوری رواجونه او په پراختیا باندي دهغوی اغیزه له پامه وغورځول شول.په عملی ډګر کی په لویدیځو هیوادونو کی روزل شوو حقوق پوهانو د مخ پر انکشافو هیوادونو د قوانینود مسودو په جوړولو ډیري زیاتي

---

[۴] دایسی ته دی مراجعه وشی ، پر اساسی قانون باندی مقدمه اتم چاپ ۱۹۱۵ص ۱۸۳ . ۵د UNDPراپور ص۲

[۵] د ملګرو ملتو رپوت ۲ مخ.

اغیزي لرلی او ددی هیوادونود سرحدی ستونزو په هکله ډېر حقوقی مشوری وړاندی کړیدي

د مدرنیزه کولو تیوری د ۱۹۷۰د لسیزی په وروستیو کی د پامه وغورځیده.اکثرو خلکو ته دا جوته شوه چی په پاسنیو پوړیو یا (ماکرو) کی هڅی د ټولنی ټیټ قشر او بی وزلو سره مرسته نشی کولی. دا کار د ټیټی کچی یا (مایکرو) د پرمختیاتیوری رامنځته کړه .دا تیوری داسی اټکل کوی چی د بی وزلیٍ علت، د اړتیا وړ لومړنیو منابعو ته د انسانانو لاس نه لرل دی او دغو منابعود ته لاس نلرلو سبب، په ټولنیزو اړیکو کی د قدرت نلرل دی.

لدی کبله د ټیټي کچی تیوری دوه فرضیی لری: اول ، دا فرضیه چی انکشاف باید یوه دوامداره پروسه وی تر څو د بی وزلی طبقی سره مرسته وکړی چی ځان غښتلی کړی او په نتیجه کې پرخپلوستونزو قابو شی، منابعو ته لاس پیدا کړی ا و د خپلو ګټو لپاره په ټولنیز ډول اقدام وکړی.دوهمه فرضیه داده چی انکشاف به هغه وخت تر ټولو زیات بری ته ورسیږی چی د ټولنی بی وزلی طبقه د خپلو اقتصادی،ټولنیزو او کلتوری ستونزو د حل لپاره یو موټی شی.په ټیټه کچه انکشاف ،په عمل کی څو اړخیزه دی او په هغه کی اقتصادی، ټولنیز ،او کلتوری اهداف له هغی جملی نه ښوونه، ادبیات،روغتیایي خدمتونه،د عوایدو زیاتوالیٍ او د بي وزلیٍ له منځه وړل، د چاپیریال ساتنه او ټولنیز مشارکت شامل دي.

په ۱۹۸۰لسیزه کی څو سازمانونه رامنځته شول چی د ټیټي کچی د تیوری پر قوانینو باندی متمرکز وو، له هغی جملی نه په ۱۹۸۲ کال کی د انکشاف په هکله د حقوقو نړیوال مرکز ، په ۱۹۸۳ کال کی د نړیوال انکشاف د حقوقو انستیتوت ، او د دریمی نړی د حقوقی مطالعاتو نړیوال انجمن چی په ۱۹۸۰ کال کی رامنځته شو.

دانکشاف د ځواکمنتوب د نظریی مشری ،اقتصاد پوه او اکادمیسین آمارتیا سن په غاړه درلوده چی د آزادیٍ پراختیا یی دوه شاخصونه (۱) لومړنی نهایت او (۲) د انکشاف اساسي وسایل ،تعریف کړی.[6]

دقحطیٍ پر عواملو د(امارتیا سن) کار او دی پوښتنې چی ولی په یوه هیواد کی چی د خوراکي موادو تولید پکی له منځه نه دي تللی کیدای شی په زرهاو خلک د لوږی له

---

[6] امارتیا سن، پراختیا د آزادی په توګه(۲۰۰۱)ص۷۴،۳۶ او همدارنګه۷۴او ۸۲ مخونه دی وکتل شی.

امله له منځه ولاړشی ، عمومی افکارو ته بدلون ورکړ او د بی وزلۍ په هکله د هغه نظریاتو ډیر پلویان پیدا کړل.

د هغی دااستدلال چی د سرانه عوایدو ساده محاسبه د ژوند د ستنډرډ د څیړلو لپاره کافی نده د ملګرو ملتونو دا نسانی پراختیا د شاخصی په رامنځته کیدو کی مرسته وکړه چی دا شاخصه په بیلابیلو هیوادونو کی د هوساینې د مقایسی لپاره په یو غښتلی منبع بدله شوه.

( امارتیا سن) وایی: "په هغه هیواد کی چی مستقل وی، په منظمه توګه ټاکنې پکی تر سره شي ، مخالف ګوندونه چی وکولی شی پر دولت نیوکی وکړی پکی فعالیت وکړي او ورځپاڼو ته د سانسور نه پرته په آزاده توګه د دولت دسیاستونو ترپوښتنی لاندی راوړل میسر وي "هیڅکله هم قحطی نه راځی.

ده د " آسیایی " ارزښتونو دبرلاسۍ په باب هغه افسانې رد کړې چی یو وخت په سنګاپور کی د ( کی کوان یو )، لخوا تبیلغ کیدی او اکثرو لویدیځو سیاستوالو او سوادګریزو اقتدار غوښتونکو مشرانو ته د منلو وړ وی.

د آسیایی ارزښتونو د نظریی تمرکز زیاتره پر اقتصادی پرمختیا ولاړ وو او فردی حقوقو ته یی دومره پاملرنه نه کوله.

د ځواکمنتوب د نظریې سره سم آزادی اولاً دیوه غوره کړي هدف تعقیبول او ثانیاً د یوه یا چو کارونو د کولو او یا نه کولو د انتخاب حق. په بل عبارت: "د عمل لپاره آزادی "او "د قید څخه آزادۍ ".

د ځواکمنتوب د نظریی یو مهم اړخ د هغی په ذاتی پلورالیزم کې دی.دا نظریه پدی تاکید کوی چی آزادی د خاصو کیفیتونو لکه (شتمنی ،زده کړه ، او روغتیا ) تر منځ د اړیکو سره په مخالفت کی ده او د پراختیا د هدف په توګه کولای شی د خاصو کیفیتونو او اعتراض آمیزه ارزښتناکو نورمونو د اختلاف مخه ونیسی او د همکاری د

یوی وسیلی په توگه عمل وکړی.کلیدی اصل آزادی ده، نو لدی کبله، پدی مفهوم کی هر پراختیایی پروگرام باید د وروستی اصل په توگه حد اکثره آزادی په پام کی ولری.[۷]

د ځواکمنتوب د نظریی پلورالیزم هم په ابزارو او هم د انکشاف د نتیجوپر بنسټ پراختیامومی.لدی کبله دا مهمه نده چې انکشاف څرنگه باید ترلاسه شی.لدی کبله آمارتیاسن د ابزارویوه مجموعه د حل دیوعمومی لاری په توگه نه پیشنهاد وی.

ددی تیوری دعملی اغیزمنتوب د بیلگی په توگه ،کولای شو د بی وزلۍ موضوع ته اشاره وکړو. د اقتصاد پر بنسټ د انکشاف نظریه، بی وزلی ته د عوایدو او پیریدلو د قدرت د مسالی په توگه د فردی پس منظر له مخی کتنه کوی. د سن طریقه داده چی وایی " ځواکمنتوب نه محرومیت بی وزلی ده ". لدی کبله یوه بی وزله ژوند هغه دی چی نه یوائی د مالی منابعو، بلکه د انتخاب او د انتخاب د توان نه هم بی برخی وي. د ځواکمنتوب نظریه ، لږعاید د محرومیت د څو عناصرو نه یو عنصر گڼي.

د بشری انکشاف په ارتباط، یو بل مفهوم دا نسان پر حیثیت او انسانی ارزښتونو ولاړ دی چی د (آن سان سوچی) لخوا رامنځته شوی.[۸]

د کارپوهانو یو بل مکتب چې د نویو اساسي اقتصادپوهانو (NIE ) په نامه یادیږي انکشاف د اقتصادي معیارونو له مخې سنجوي.هغوی استدلال کوي چې د مدرن او پرمختللي اقتصاد اجزا لکه قرارداد، تضمینات ، مقررات او اغیزمن اجرائیوي میکانیزمونه په حقیقت کې دملکیت د حقوقو نتیجه ده او دا هماغه حقوق دي چې وروسته پاتې اقتصادي سیستمونه ئې نه لري.

لدی کبله د نوی بنسټیز اقتصاد د نظریی پر اساس ، د قانون حاکمیت، د مالکیت د حق دروښانه تعریف او ددی حق د انفاذ لپاره د موثرو بنسټونو درامنځته کولو لپاره دی.

[۷] په عمومی توگه ئی تام دینگر ته راجع شی، پراختیا ، اصلاح او د قانون واکمنی.د مشترک درک لپاره څو مشوری د " قانون د واکمنی څخه "و د پراختیا په تیوری او عمل کی د هغه ځای.(۲۰۰۷)د ییل د بشری حقوقونو او د پراختیا د قانون نشریه ۱۷۸-۲۰۸

[۸] Aung San Suu Kyi, Freedom, Development, and Human Worth, ٦ J. Democracy ١١ (١٩٩٥).

## د بشري انکشاف انديکس

د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداري UNDP د پراختيا د راپور ورکولو او سنجش لپاره څلور انډيکسونه رامنځته کړی چی عبارت دی دبشري انکشاف انډيکس (HDI) د جنسيتی انکشاف انډيکس (GDI) د انسانی بی وزلۍ انډيکس (HPI) او د جنسيتی توانمندۍ انډيکس (GEM).د بشری انکشاف انډيکس تر ټولو مهم دی.

په کال ۱۹۹۰ کی UNDP د بشری انکشاف په هکله په خپل لومړنۍ راپورکې د انکشاف د اټکل لپاره يوه نوی لاره معرفی کړه چی په هغه کی د متوقع عمر ،زده کړی ته لاس لرلو او عايداتو انډيکسونه د انسانی انکشاف په يوه انډيکس کی شامل کړل .ددی انډيکس مهمه برخه د يو واحد رقم رامنځته کول وو چی هم داقتصادی او هم دټولنيز انکشاف لپاره د يو چوکاټ په توګه ورنه کار واخيستل شی . د بشری انکشاف انډيکس دهري انکشافی جنبی لپاره حد اکثر او حد اقل،حد ټاکي . چی (Goalpost) ګل پست بلل کيږی. او بيا ددی ګل پستونو په رابطه د هر هيواد ،مقام تعينوی چی د ۰ او ۱ په ډول ښکاره کيږی. سره لدی د بشری انکشاف انډيکس د نورو انسانی پرمختګو نو د اټکل د مقياس لکه سياسی ازادی، ټولينز مشارکت، فزيکی امنيت او د قانون واکمنی لرونکی نده. لدی کبله دا انډيکس د بشری انکشاف د ټولو پيچيلو عناصرو منعکس کوونکی ندی خو لدی سره سره د نورو انډيکسونو په نسبت ، لکه د ناخالصه ملی توليد ،لوی تصوير ښکاره کوی.

## نړيوال بانک

نړيوال بانک ،د دوهمی نړيوالی جګړی د اقتصادی بحران په پيل کی رامنځته شو.د هغی لومړی کار داوو چی د هيوادونود بيا رغونی او اقتصادی پراختيا لپاره پورونه برابر کړی. نړيوال بانک د ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ په لسيزو کی خپل رول پراخ کړ او د بشری انکشاف او بی وزلۍ پر ضد پروژو کی يی په پانګي اچولو سره برابره پراختيا تشويق کړ.[۹]

په ۱۹۸۰ کلونو کی د پورونو د بحران نه وروسته، د نړيوال بانک توجه يو واربيا د رغوني اوپه لويو اقتصادی برخو کی پورونه ته واړول شو.پدی کار کی د مشروط

[۹] پدی هکله د نور تفصيل لپاره دا منبع وکتل شی :ريچارد بليک، د نړيوال بانک د انکشافی چوکاټ او د انکشاف او قانون مايکرو پارادګم (۲۰۰۷) ۳ جورنال ييل،بشری حقونه او د انکشاف قانون ۱۵۹-۱۸۹

سیاست نه کار اخستیل کیده او پوراخستونکی هیواد به مجبور و چی د َتورم ، عمومی بودیجی دکسر، د بهرنی تجارت او پانګونی آزادول، د اسعارود بیی او د مالیې او ځمکو په برخو کی مالی اصلاحات را منځته کړی. دا شرطونه د (واشنګټن د توافق) په نامه هم یادیږی. ځکه چی د رغوني اصلاحات، د نړیوال وجهی صندوق سره یوځای طرح او پر مخ بیول کیده. د واشنګټن د توافق لاری چاری په لویه کچه ناکامې شوې. یواځی یو پر دری هیوادونه چی ددی شرایطو درلودونکی وو / ددی کار په کولوبریالي شول. له هغی نه وروسته نړیوال بانک لدی کبله چی "کوچنی انسان " او د انکشاف انسانی برخی ته یی لږه پاملرنه کړې وه او هڅی یې دنورور نړیوالو موسسو سره هم غږې نه وې ،تر کلکو نیوکو لاندې راغی.

ځکه خو د ۱۹۹۰ په لسیزه کی نړیوال بانک خپلې هڅې ،هم لوی اقتصاد او هم انساني انکشاف ته متمرکز کړې. دا کار د( انکشاف د پراخ چوکاټ) وړاندیزرامنځته کړ چی د نړیوال بانک د رییس، جیمز ویلفنسون لخوا وړاندی شوه.

د (سی دی اف) د وړاندیز اصلی هسته یو (ماتریکس) یا ځاله دی. چی د انکشاف د عناصرو ( د رغاوني ستراتژی ، انسانی ، فزیکی او سکتوری ) او ( دولت ،څو اړخیز او دوه اړخیزه سازمانونو، مدنی بنسټونو او خصوصی سکتور ) د موسساتو ترمنځ تعامل ښکاره کوی.ددی ځالي نه په ګټی اخستلو، انکشافی بنسټونه کولای شی خپلی هڅی ددی څلورو اصلونو پر بنسټ هم غږي کړی:

- د انکشافی ستراتیژی هدفونه په انفرادی ډول دهیوادونولخوا رهبری کیږی.
- انکشاف باید معنوی وی او پر ټولنیزو او اقتصادی ستونزو متمرکزه وی.
- ټول انکشافی بنسټونه باید د انکشافی پالیسی په تعیین او تطبیق کی ونډه ولری.
- انکشاف باید د اوږد مهالو سیساتونو سره یوه مشارکتی پروسه وی پدی معناچي ټول پکښی ونډه ولری.

## نتیجه

تر ډیره حده داسی ښکاری چی پراختیایی سیاستونه د هغو پیچیلو ستونزو نه د یو روښانه او پوره پوهی نه پرته رامنځته شوی چي پدی هکله اغیزمن دی. د ټولنو د اوږد مهاله او ښوګڼو لپاره ډیره مهمه ده چی انکشاف ته له معنوی نظره وکتل شی او د قانون واکمنی، ددی پروسی د یوی برخی په توګه ،او دغه دواړه د هری ټولنی د سیمه ایز وضعیت په رڼا کی وکتل شی.